# ستړی ژوند

## ناول



Ketabton.com

لیکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

**پدي هیله یم چي روغ او جوړ به یي، درنو او ډیر د قدر وړ لوستونکو یو ځل بیا ماته الله ج دا وس او توان راکړ ترڅو یو ځل بیا د قلم او ذهن په استعمال سره یو بل ناول د ناول مینوالو ته ولیکم. که څه هم زه ښایي په اصولو برابر لیکوال نه یم خو بیا هم ما هڅه کړي تر څو د خپل ذهن زیږنده او ستاسو لپاره یو ناول ولیکم. دا ناول هم په یوي ښي موضوع راڅرخي او د لوستلو په وخت کي تاسي دقیق اوسئ ددي لپاره چي ښه مطلب تري ترلاسه کړئ. دا ناول مي ډیر وخت وروسته ولیکه اما ددي ناول لیکلو موضوع او مفکوره مي له مخکي په ذهن کي وه خو ولي وخت او مصروفیتونو اجازه نه راکوله تر څو په هماغه وخت کي یي ولیکم نو ورځو ستاسي د انتظار شیبي رالنډوم او په ناول پیل کوو.**

**وسلام!**

**ستاسي ورور جمال معصوم**

**۱۱ / ۹ / ۱۴۰۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا ناول دي زما ګران او خوش اخلاقه
ملګري اسرار خاموش ته دي ډالۍ وي!
تل دي خوښ او خوشحاله يي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ناول پیل

له شېږۍ مې سر راوویست د غار له سوریو نه د سحر تته رڼا ښکاریده . شمع دانۍ ته مې وکتل هغې کې هم شمع نه وه پاتې، ټوله ویلي شوې وه ډاډه شوم چې سحر شوی دی ستومانی مې وویسته له شېږۍ مې دوږه وویسته ومې ټوخل او بیرته مې په خپل ځای سمه هواره کړه د اوبو نه مې کوزه ډکه کړه بهر ووتلم د سحر تته رڼا وه مخ ته مې د اوبو لپه واچوله او اودس مې وکړ اوبه ډېرې سړې وې سلګی یې رانه وویستی ولاړ شوم اسمان ته مې وکتل خړو ګردونو پناه کړی وو پوی شوم چې بیګاه بیا ډیر باران وریدلی وو .خپلی جونګړی ته ننوتلم په جای نماز ودریدم په اخیری رکعات مې سلام واړوو دعا مې وکړه جونګړه کې تیاره وه شمع مې بله کړه . له تاخچې مې قرآن قریم راواخیسته یاسین مې تلاوت کړ بیرته مې پر خپل ځای کې کیښود . په نغری کې مې اور بل کړ توره چاې جوشه مې پرې کیښوده لوګی مې سترګی ترخی کړی . جونګړه توده شوه په رښتیا چې نن ډیر ساړه وو . شیبه وروسته مې چای ځان ته تیار کړ . بیګاني د هوسۍ ښکار کړي غوښه مې هم توده کړه او په خوند مې ناشته وخوړله .

لوښي مې ټول کړل ، ویښته مې غوړ او په ماته ښیښنه کې ږمنځ کړل . د ستکشی مې پر لاسو کړي د بوټانو مزی مې کش کړل د خوراکی توکو بکسه مې شاته وتړله د ښکار سامان مې هم راواخیسته . د جونګړی پرده مې کش کړه . بهر راووتلم د جونګړی خولی ته مې لویه تیږه وراډامه کړه ، تر څو نور حیوانات وردننه نشی . پاس مې وکتل د نخترو په ونو هم لړه لړه واوره بریښیده .ښی لوري ته مې وکتل د سپین غر لویه دره لا هماغسی به درز کې لاندی سیند ته روانه وه . د غره د لمني لاندی سیده یوه لاره وه چې ځنګله ته تیره شوی وه پرې روان شوم . ما قدم وهه او ددغه ښکلی منظری ننداره مې کوله . کله مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی د سپین غر لوړي څوکی ته وکتل نو روح می لا تازه شو . ځکه چی د لمر ژیړی وړانګی پړی لګیدلي  سترګی یی راته وبریښنولی. نن می روح تازه او خوشحاله وو . د نخترو له ونو د یو یو مرغه نغمه زما تر غوږه رارسیدله.

کله چی د غره له لمنی راښکته شوم نو مخی ته می مست سیند ولیده چی په خپل غرور او شور سره روان وو . ښکلی بتکی به پکي لمبو کوله یو نیم باز به هم په کوچنیو ماهیانو حملی کولی او پنجو کی به یی اوچتول . د سیند په غاړه وړی او لوئ ډبری وی خو منځ یي ډیر ژور وو نو د همدی له امله پری یو ښایسته پل جوړ شوی وو . د پل هخوا شین چمن او د ځنګل لاره وه .د پل پر منځ ودریدم او د ختیځ خوا د لوئ سپین غر ننداره می کوله زړه می پدی یوازیتوب کی ډیر خوشحاله وو . ومی خندل او داسی می حسوله لکه دا ټول ښکلی طبیعت چی له ماسره غږیږي او هر یو راته د خپل ښایست او  ښکلا خبری کوی او زه داسی یم لکه دا می چی لومړی ځل وی دا ځای ګورم.

په پل واوختلم او د ځنګله په لور روان شوم په شین چمن روان وم دواړو خواوو ته مي قسم قسم وني راتلي او د ډول ډول مرغانو اوازونه می اوریدل. د نیم ساعت مزل وروسته ځنګل ته ورسیدم لاسی ساعت ته می وکتل نهه نیمی بجی وی.

په ځنګله کی د ډول ډول میوو ونی هم وی لکه انګور، کېلی، کجهوری او داسی نوری چی تر څنګ یی ډول ډول مرغان هم پکی وو چی ځینی یی وحشی هم وو.د لوږي احساس می وکړ د کېلو د ونې تر څنګ ودریدم خو د کېلو نه پکی بیزوګانی ډیری وی. یوه تیږه می پورته کړه چی ګوزار می پری وکړ نو بیا نو بیزوګانو ته خدای ورکړه زه یی په کیلو وویشتم کیلی می ټولی کړی له هغه ځایه لاړم یوی لوی ونی ته می ډډه ووهله کیلی می وخوړلی د اوبو غړپ می پسی وکړ .

ولاړ شوم پاس می وکتل د ونو ګڼوالي له امله اسمان پناه وو . روان شوم په لینده کی می تیږه کیښوده شاوخوا می وکتل د ونو تر شاه ډیر حیوانات ښکاریدل ځینی واړه او ځینی غټ وو . مخامخ می وکتل یو کمچه مار سپینه سویکه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپی نیولی وه او چغی یي وهلی لینده می پری په نبنه کړه د مار سر زوړند شو سویکی منډه کړه نژدی ورغلم مار په سر لګیدلی وو . زه مخ پر وړاندی روان وم سویکو او داسی نور حیوانات خپلو کی سره چغیدل . پاس می د خرما ونی ته وکتل ښایسته د طوطیانو جوړه پکی ناسته وه . زما طوطیان ډیر خوښیدل او تل می دا کوښښ کوو چی طوطیان ونیسم او خپله ژبه ورزده کړم او ځان سره یی ملګری کړم . خو تر ننه یی زه په نیولو نه ووم بریالی شوی . خو نن می قصد کړی وو .

د طوطیانو نیولو لپاره می جال او یو څه خواړه هم راوړی وو .د طوطیانو ښنه ځای می په نښنه کړ، هلته می جال هوار کړ او دانه می پری واچوله د ونې ډډ ته پټ شوم . یو څو دقیقی وروسته دوه طوطیان راغلل او د جال لپاسه کیناستل او د دانو په خوړلو یی پیل وکړ . کله چې ښه مینځ ته ورغلل نو د جال تار می ورو ورو راکش کړ . یو طوطی تری پر وهل او یو طوطی پکی ونښته . ورمنډه می کړه کلک مي ونیوه خپی می تری د جال نه خلاسی کړی. ډیر ورته خوشحاله شوم ښایسته طوطی وو ټول شین وو خو پر سر یی سره پټه وه او لکی کی یی یو څو ښکی توری وې . طوطی تیری چغی وهلي له ځان سره می وویل " ډیر مست یی ګرانه " په وړه قیچی می تري لږي لږي وزري قیچی کړي جال می راټول کړ او طوطی می له ځانه سره واخیسته .روان شوم وخت ته می وکتل ناوخته وو لږ انګور می راوشکول . ما او طوطی په ګډه وخوړل. د ماسپښین د لمونځ وخت وو، د اوبو چینی ته ورغلم د چینی په ترمو اوبو می اودس وکړ طوطی می له خپی وتړه په شین چمن مي لمونځ وکړ.

یوه بجه شوه . خوب راتله خوله می وازه وازه کیدله خیز می ووهه په شین چمن کی می یو ملخ ونیوه طوطی پری حملی وکړی طوطی می خلاس کړ د کار سامان می پر شاه وتړه لمن مي څنډ وهله او روان شوم د خوب لپاره می په ونه کی ځای پیدا کړ. پدې ونه کی ما د ځان لپاره د خوب ځاي له لختو جوړ کړی وو او هره ورځ به پکی ویده کیدم .له نورو وحشی حیواناتو څخه پاکه وه . ونی ته وختلم د خوراکی سامان بکسه مي په ښاخ کی زوړنده کړه طوطی می له خپې وتړه لاندی ځکه نه ملاستیدم چی نور د خطرناکو حیواناتو ویره هم وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ډیر وخت آرام می وکړ یو وخت می طوطی پر پوزه ټونګی وهلی سترګی می خلاسی کړی . یو غټ څاڅکی می پر مخ راولویده اسمان ته می وکتل توره وریځ پري خوره وه . ساعت ته می وکتل د تلو وخت مي وو. باران هم شروع شو ناوخته راته بریښیده. طوطی می له ځانه سره واخیسته د خپل ښکار ځای ته لاړم چیرته چي لوي حیوانانو ژوند کوو . د ونی تر شاه ودریدم یوه هوسی می په نښنه کړه بسم الله مي وویله . غشی می ورخوشی کړ هوسۍ ولویده الله اکبر مي وویل ، ورمنډه مي کړه چاړه می پري تیره کړه هوسۍ می له هر سه پاکه کړه غوښه مي وړه وړه کړه.زه په دی کار کی له ډیرو کلنو راهیسی بلد وم چل می یاد وو . غوښه می له ځانه سره بکسه کی واچوله ناوخته وو باران هم اوریده د ځنګل نه راووتلم تر څو چی د ځنګل نه راوتلم نو د کالیو نه مې اوبه څڅیدلي.

د سیند نه واوختلم شیبه وروسته جونګړي ته ورسیدم د جونګړی له خولی می تیږه کش کړه ډیر یخ می شوی وو . لاسونه می کنګل وو داسی تیاره وه لکه ماښام، جونګړی ته ننوتلم توره تیاره وه پرده می کش کړه لږه رڼا شوه طوطي مي یو څنګ ته وتړه. د ښکار سامان او غوښه می په خپل ځای کی کیښودل. مخ لاسونه مي ومینځل کالي مي بدل کړل یوه شمعه مي ولګوله. پرده می کش کړه لږه شیبه کي مي ځان تود کړ بیا مې د مازیګر لمونځ وکړ . وروسته له جونګړي څخه ووتلم له ځانه سره مې یو ګوټک تار واخیسته بهر باران په ودریدو وو لویدیځ لور ته د شین اسمان رڼا خوره وه لګیا شوم لښتي مي راپیدا کړي او ښه شیبه وروسته مي یوه ګلالۍ پنجره د طوطی لپاره جوړه کړه . طوطی می پکی واچوو یوه شیبه همدسی پر ځمکه ناست وم یخ باد لګیده ښکلی یخه وږمه وه ساړه ډیر وو خو ژمی هم نور په تیریدو وو مخامخ می شین آسمان ته کتل سوچ کی ډوب وم. شیبه وروسته تیاره خوره شوه . ناوخته وو د ماښام لمونځ می وکړ نوري شمعی می هم ولګولی رڼا ډیره شوه د ښکار غوښه می راواخیسته له مینځلو وروسته مې وړه وړه کړه ، نغری کی می اور بل کړ دیګ کی می واچوله او د اړتیا وړ مواد می پکی واچول . سه وخت وروسته مې د پښني شوی غوښی بوۍ حس کړ اور مي بند کړ پسي . د ماسخوتن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ وروسته مي ډوډي وخوړله ، لوښی می تول کړل . طوطي مي هم موړ کړ خوب ځای می تیار کړ تر ډیره په خپله بستره کی ویخ ناست وم . طوطی می په لاس کی مخي ته نیولي وو . ما او طوطی شمعی ته کتل بیا شبیه وروسته مي طوطی ته وکتل سترګی یی پټی پټی کیدلی زه مسکی شوم ومی ویل " طوطی ګله دومره ژر خوب در؟" , , شمع می پو کړه . طوطی می پنجره کی واچوو او زه هم ویده شوم . ژوند همداسی تیریده او د یوازیتوب احساس می ورو په ورو کمیده د طوطی سره به می ډیر ساعت تیر وو . او خبري به می ورسره کولی د خوراک به می ډیر پام ساته له ځان سره به می ځنګله ته هم بوتله . په کم وخت کی راسره ډیر بلد شد . اول می په شپیلي بیا می په خبرو راوسته کله چی طوطی خبری زده کړی نو د خوشحالی او ساعتیري یوه وسیله می وګرځیدله . ما به له ځانه سره ویل " کاش چی زه هم طوطی وی دا حیوانات څومره رحمدله او زړه سوانده دی" ما به طوطی ډیر نازوو مینه به می ورکوله خو طوطی باندی هم زه ډیر ګران وم . زه به یی چی کله یواځی ولیدم نو زړه به یي راباندي خوږیده.

ماسره به کیناست ټوکی او تمثیلونه به یی راته کول تر څو ما خوشحاله کړی . ډیر شوخ هم وو زه به یی فکر کولو او پریشانی ته نه پریښودم، تر نیمو شپو به سره ناست وو کله به مو چي جونګړه کی اور بل کړ نو زه او طوطی به ورته ناست وو او طوطی به ماته د خپلی کورنی خوږی او ترخی خاطری ویلی . دی طوطی صرف دومره ارمان درلوده چی وزري یي بیرته غټي شی. کله به چی طوطی د خپلی کورنی په اړه خبری پیل کړی زه به ورته خجالت شوم . او په زوړند سر به می طوطی ته وویل " ما وبښه ماله تا سره ډیر ظلم وکړ ته می له خپلی کورنۍ څخه راجلا کړی او د ځان په خیر می یوازی کړي ما په تا ظلم وکړ " طوطی به په ځواب کی داسی ویل " ته ولی ببښنه غواړی هر څه چی وو هغه تیر شو او اوس زه له تاسره ډیر خوشحاله یم چی ستا غوندی مهربانه شخص ته په لاس ورغلی یم او تاته می خوښی درکړه په ربښتیا چی ته سل په سلو کې له نورو انسانانو څخه ډیر مختلف یي ځکه که نورو انسانانو ته په لاس ورغلی وم نو تر ننه به مشکله وه که زه ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتي وم، اوس که می خپله کورنۍ هم پیدا کړم نو تا به یواځی پرینږدم خو افسوس چی زما کورنۍ  نه بلکي ټول طوطیان د انسانانو نه کرکه لری خو کاش چی په دی پوه وو چی انسانانو کی هم داسی کسان شته چی د هر چا حق پیژني "  ما  چي د طوطي دا خبري واوریدي نو ډیر زیات حیران او خوشحاله شوم مننه مي تري وکړه.

یوه شپه چی غوښتل مو د جونګړی نه بهر  اور بل کړو او مجلس وکړو ځکه چی هوا یو سه ماته شوی وه . تور اسمان وو د غمیو په څیر پکی ستوری ځلیدل او تور اسمان کي  نرۍ سپوږمی زوږنده ښکاریده نری شمال لګیده . ما له جونګړي څخه د لرګیو دړی  راواخیستی طوطی لګیا وو په مښوکه کی یی وړی لختی راټولولی هر څه مو برابر کړل اور مو بل کړ طوطی اسمان ته وکتل او ویویل " دا آسمان د شپی څومره ښایسته ښکاری " ما وویل " له موږ څخه خو دا ستوری هم ښه دی " طوطی وویل " ولی"  دی سره زما سترګی له اوښکو  ډکي شوی طوطی وویل " څه خبره ده کاش چی ما دا خبره ما نه وی کړی چی ستا سترګی می نمجنی کړی “ ددی خبری سره طوطی یو څه په فکر کی ډوب شو تر اوږدی چوپتیا وروسته طوطی رانه یوه پوښتنه وکړه او راته یی وویل "آیا ته کورنی لري ته د کله راهیسی دلته اوسیږی تر کومه ځایه چی زه پوهیږم ټول انسانان خو هم ځانته کور او کورنۍ لری ګډ ژوند کوی آیا داسی نه ده که وی نو ستا کورنۍ څه شوی ؟ " ددي پوښتني په اوریدو سره مي ټکان وخوړه دا لومړی ځل وو چی داسی پوښتنه رانه یو چا وکړه طوطی هم نور په ما شکی شوی وو ددی پوښتنی سره یی زما د ټول تیر عمر غمژن وختونه را انځور کړل په سر می دروند درد شو له سترګو می بي واره اوښکی روانی شوی خپل پلار مور  ورور او خور یی یو یو راته انځور شول دا هغه څوک وو چی ما یی تر ننه په هیرولو کی فکر کوو چی څنګه یی هیر کړم خو زما دومره خواري په دي  پوښتني سره په اوبو لاهو شوه . طوطی چی زما دا  حالت ولیده نو ورخطا شو څه یې نشو ویلی خو زما د ځواب په تمه یی راکتل اخیر یی هم صبر ونه شو کړای او ویویل " ولی کومه پیښه شوی او که زما پوښتنه بی ځایه وه هیله کوم ما ته ووایه هله " طوطی ته می

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګی ورواړولي ورته مي وويل " نه ګرانه ستا پوښتنه په ځای ده په رښتیا چی هر انسان کور لري کورنۍ لري ګډ ژوند لری روزمره کارونه لری خو زه ډیر یو بدل انسان یم زما کورنۍ اخ طوطی ګله ! دا یوه اوږده کیسه ده دا چی زخمونه می تازه شول نو که غواړی خپل د زړه براس به درته بیان کړم " طوطی وویل " هیله کوم ما پوه کړه ما خو تاته د خپلی کورني په اړه څومره ډیر معلومات درکړي ته هم راته د خپل ژوند کیسه ووایه . ما وویل " " ښه نو سمه ده دا یوه غمژنه کیسه ده غوږ شه راته، موږ په یوه کلی کی اوسیدو . اه څومره د ښکلاګانو ډک کلی وو !! ما یو مشر ورور درلوده کوچنۍ خور او مهربانه مور او پلار می درلودل په ښکلي کلی کي مو ژوند مو تیروه . پلار می یو دهقان وو د پټو ټول کارونه به يې په خپله کول زه او زما ورور يي تعلیم ته هڅولو او پلار به می ډیر راته داسي ويل، ګرانو بچو زه نه غواړم چی ژوند مو زما په څیر په کړاوونو او تکلیفونو کی تیر شی او دواړی سترګی مو د تعلیم له خوږو ړندی پاتی شی . زه په دی ویاړم چی په تاسو تعلیم کوم تر څو تاسو په راتلونکی کی خپل هیواد ته خدمت وکړی,,

پلار جان می موږ دواړو ورونو ته له مخکی ښه پوهنځي انتخاب کړی وو . کله به چی له مکتب نه کورته راغلو نو پلار به می ناری کړی " هغه دی زما ډاکټر او انجینر زامن راغلل " مور به مې په مهربانه ژبه ورته وویل " وسړیه ماشاء الله وایه چې د نظره یی راته نکړی"

موږ دواړه ورونه په مور او پلار ډیر ګران وو زموږ په روغتیا او خوشحالی به من من غټیدل او خپل ارمانونه به یی د ګل په څیر غوړیدل . ما او ورور او خور به می یوځاي هر ډول لوبی کولی په مازیګر کی به مو په شنو پټیو کی سابه کول . کله به مو د شفتلو له ډنډرو څخه بنګړي جوړول . موږ ته پلار یو طوطی هم اخیستی وو چی ټول ستا په شان وو ملخان به مو ورته رانیول ټوپونه به مو پسی وهل"

د سترګو اوښکی می پاکی کړی او اسمان ته می وکتل سپوږمۍ لا هماغسی ولاړه وه پوزه می کش کړه ستونی می تازه کړ طوطی وویل " ښه نو بیا " ما وویل " زما له وړوکوالي څخه طبیعی منظری ډیری خوښی وی نو الله ج

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغسې ښکلې کلی هم راپه برخه کړی وو زمور کلی د یو مست سیند تر څنګ وو چې د کلی ځینو زوانانو به په اوړی کی به پکی لامبل او نورو به یي سیل کوو.

کله به چې شپونکیانو رمی له څرولو څخه راوستی نو زموږ د کلي د سیند په اوبو به یی خړوبولی، د سیند پوری خوا ته یوه د رڼو اوبو چینه هم وه چې هر مازیګر به پری د انجونو بنډار جور وو . یو ښوونځي هم د کلی څخه لږ یوی خواته وو چې د پوخ سرک لاره ورته تللی وه، پدی سرک به ډیری وخت غټ او واړه موټرونه تیریدل چې دا سرک ښار او کابل ته هم تیر شوی وو.

ښه می په یاد شی چې زما عمر به تقریبا ۹ کاله وو یوه ورځ مي ورور ډیر ناروغ وو مکتب ته نشو تلې د شپې یی تبه وه . پدی ورځ موسم ډیر ښایسته وو، د پسرلی ورځی وی نري نری باران وریده ، ما د سحر چای وڅښه دا زما اخیری چای څښل وو د خپلی کورنی سره او وروستی دیدن می وو خو زه څه پوهیدم چی په یوه ورځ کی به زما د ژوند پاڼه دومره تغیر وکړی چي ما یي تر ننه هم فکر نه وو کړي، کله می چی چای وڅښه پلار جان راته لس ګون په جیب کی کیښوده او راته یی وویل " عکیفه زویه نن دی ورور درسره نشی تلی مکتب ته، بیګاه یی سخته تبه وه د مشال له ښوونکي سره وګوره چی غیر حاضر یی نه کړی ما وویل سمه ده بیا می پلار په تندی ښکل کړم مور مي راته غوړه ډوډی په پلاستیک کی واچوله او بکسه کی یی راته کیښوده او راته یی وویل ګوره عکیفه په سرک چی تیریدی نو پام ډیر کوه د نن سبا موټروانان موټر په هوا چلوي"

اه!! هاغه څومره ښه وخت وو چی د پلار او مور د مهربانۍ او شفقت تر سیوری لاندی وم، دا می وروستۍ دیدن وو د مور او پلار سره بیا می تر ننه پوري ونشولیدلی.

طوطي ګله له کور څخه ووتلم خور مي راته دروازه کی راکتل لاس مو یو بل ته خوروو، د پټی په نرۍ پوله روان شوم، آسمان خړي وریځي پناه کړی وو او نری نري باران تري راوریده، په پټیو کی شفتل رسیدلي وو، ډیر شبنم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پري پروت وو، په ویالو کی لپه لپه اوبه روانی وی د توتانو له ونو څخه د مرغیو نغمي اوریدل کیدی، مکتب ته په تلو تلو کي می همداسی ننداره کوله، چی د کلی سرک ته ورسیدم سرک لا هماغسی د موټرو له شغ او پغ څخه خالی نه وو، ځکه عمومی سرک وو زموږ ښوونځی د سرک چپ لوري ته وو"

طوطي ته مي وکتل سترګی یی پټي پټي کیدلی مخي ته پروت انګار هم په ایرو بدل شوی وو. طوطی وویل " نوره کیسه به بل وخت وکړی ناوخته دی خوب راځي او ستا هم حالت ښه نه ښکاري" ولاړ شو جونګړي ته ننوتو یوه شمع می بله کړه د خوب ځای می سم کړ او ویده شو.

یو وخت مي د طوطی غږ واوریده سترګی می خلاسی کړی طوطی لګیا وو د یو شوپرک سره یی لوبی کولي. ناشته مو وکړه د سیند غاړی ته راښکته شو، زموږ څخه مخکی شپونکیان د سیند غاړې ته راغلی وو او په لوړ غږ یی لنديۍ زمزمه کولي داسي لکه هیڅوک یي چي هم نه وي لیدلي او په یوازیتوب کي له خپلي زمزمي نه خوند اخلي. طوطی می پر اوږه ناست وو، اسمانهماغسی خړه بړستن پر تن کړی وه .یو شپونکی رانیږدي شو په لاس کی یی شپیلي وه راته یی وویل " دلته څه کوي "ما وویل " زموږ همدلته کورونه دی د سیند غاړې ته د سیل لپاره راغلی یو " شپونکی شاوخوا وکتل اوږي یی پورته واچولی شونډي یي ببری کړی . بیا یی وویل " ځوانه شپیلی دی زده ده ما وویل " هو ولی نه که سمه مي ونه غږوله نو بده به یی هم ونه غږووم "شپیلۍ می تری واخیسته په شین چمن کی می پرلتۍ ووهله شپونکی راته مخی ته کیناست پاس آسمان کی اوږده قطارونه د مرغانو روان وو . شپیلي می ورو ورو شروع کړه د شپیلۍ غږ می ورو ورو تیزوو چی پدي ښکلی طبیعت کی یي انګازي جوړی کړی، پوره پنځه د قیقی می وغږوله، شپونکی سر ښکته کړی وو او په سوچ کی تللی وو لکه یو دردیدلي عشق انځور چي په ذهن کي جوړوي، کله می چی شپیلۍ بس کړه شپونکی له سترګو اوښکی روانی شوي او ویویل " وه څومره یو دردونکی غږ دی تري راوویسته " ما ورته وویل " په رښتیا چی دردونکی غږ وو خو ستا سترګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولی نمجني شوی " راته یی وویل " دا یوه دردناکه کیسه ده تیر شه تری " ما وویل " نا هله ژر کوه ما هم پوه کړه " شپونکی سر ښکته کړ راته یی وویل " ته چی دومره شله یی نو سمه ده زما کیسه د مینی کیسه ده هغه دا چی، کله زه ماشوم وم زما یوه ملګری وه چی زموږ همسایه هم وو، زه په هغی ګران وم او هغه په ما ډیره ګرانه وه خو هغه وخت مو مینه نه حس کوله کله چی سره لوئ شو نو بیا به مو چی یو بل نه لیدل نو درد به مو په زړه کی احساسوو خو لنډه دا چی هغه به راپسی ډیره زوریدله، مور راته د واده خبره وکړه زه پری خوشحاله شوم همدا همسایه می ور په نښه کړه، مور می خوشحاله شوه او همسایه کره په مرکه ورغله، هغوی ورسره ومنله خو ځینو د پښتو د بد رواجونو په اساس ځیني شرطونه يي پر موږ کیښودل چی پلار می د هغی وسه نه درلوده نو هماغه وو چي مور مي راته وویل له دی به تیر شو خو زما زړه او مینی کله منله خپلی مینی به هم راته زاری کولی چې هیله کوم ما مه پریده نو هماغه وو چی کور کی می ټولو ته وویل چی زه به هیڅکله له دی تیر نشم که په هر قیمت وي زه به یی خپلوم، نو بیا می د یو چاسره ترکی ته په قاچاقی لاره د تلو پلان ونیوه مینی او مور می ایجازه نه راکوله خو زما زړه هم صبر نه کوو نو هماغه وو چی خپلي رمي مو خرڅي کړي او په روپو يي ترکی ته روان شوم کله چی ایران ته ورسیدم نو ډیری بدی ورځی می ولیدی تر څو چې له ایرانه وتلم نو دری میاشتی تیری وي هلته می ترکیه کې دوه کاله مزدوري وکړه بیا یی ونیولم هلته مي ډیری روپي ګټلي وی خو کله چی خپل هیواد ته ورسیدم او خپل کلی ته راغلم او کورته ننوتلم ټولو ستري مشی راکولو سره ژړل خو زه نه پوهیدم چي دا ژړا د کوم درد احساس وه، پلار ته مي روپئ وسپارلي، زړه می ډیر خوشحاله وو زما د مینی مور او پلار ما لپاره ستړي مشی ته راغلل خو زما مینه ورسره نه ښکاریده پوښتنه می تري هم نشوای کولی سودا می شوه د میني لیدو ته می ډیره تلوسه وه چی هغه به اوس څنګه وی دوه ورځی پس می مور ته د خپلی مینی د مرکی خبره یاده کړه مور می په ژړا شوه خو بیا یی هم راته څه ونه ویل خو دومره یی راته وویل " بله ورځ به لاړ شو "خو زما زړه کې سل او شل خبری راتلی خو څه می نشوی ویلی د پخوا په څیر د خپلی مینی د دیدن ځائ ته لاړم چرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی به مخکی ما له خپلی مینی سره ملاقات کوو کله چی هلته لاړم تر ډیره ولاړ وم خو مینه می نه ښکاریده فکر مي وکړ شاید نن یي سه کار ډیر وو ځکه رانغله په همدي خبرو مي ځانته ډاډ ورکوه، ماښام ناهیلی زړه بیرته راستون شوم کله چی له هغه ځاي نه راتلم هماغه د مینی کوچنی ورور می مخی ته راغي موقع مي ومونده چی اوس به تری د مینی پوښتنه وکړم خو کله می چی تري پوښتنه وکړه هغه په ژړا شو له سترګو یې غټې غټې اوښکې په غومبرو لاري جوړي کړي او راته یی وویل " ته لا خبر نه یی ببځ می یو کال وړاندي مړه شوي "کله می چی دا واوریده بدن می زیړ زیړ شو د سر ویښتان مي نیغ ودریدل لړزه راباندی راغله، ماشوم په خپله مخه لاړه چی کورته راغلم مور می په حالت پوه شوه د مینی کیسه یی راته وکړه ویلی چی ته کله له دې ځایه لاړی نو هغه تا پسی ډیره زوریده نور یي دریسی ژیړی شو رنګ یی الوتی وو کله چی ډیره خرابه شوه نو هغه یی روغتون ته بوتله کله یی چی معاینی پای ته ورسیدي نو ډاکترانو ورته زواب ورکړ چی ددی د ستونی سرطان دی د ښه کیدو چانس یی نشته کورته یي بوځئ، الله دی پری ورحمیږي نو له هغي وروسته یوه اونی یی وزغمل او بیا وفات شوه خو له دې دنیا نه یي په تلو تلو کی زوئ جانه ستا نوم اخیسته"

کله می چی د مور خبری واوریدی نو ډیر بد تاثیر یی راباندی وکړ ټول ژوند مي په خاموشئ او سوچونو کي تیروه مور او پلار مي راته ډیر خواشیني وو د تسلیت خبري به یي راته کولي زما زوق پسي به ګرځیدل نو هماغه وو چي بیرته مو د کوچانو ژوند پیل کړ او رمي مي پلار بیرته واخیستي ځکه چي زما رمي پیبل ډیر خوښیدي زما د پام غلطولو لپاره یي واخیستي او بله دا چي نه مو کوم بل کار وو چې ګټه یي راته کړي وه .نو ځوانه اوس مي لږ ساعت ددي طبیعت له منظرو سره تیر دي ځکه زما د میني هم ښکلي طبیعت ډیر خوښ وو "پدي وخت کي شپونکي سر ښکته کړ بیا د خپلي رمي لور ته وکتل شپونکي ډیر له ژونده ناهیلي ښکاریده تسلی مي ورکړه او غوښتل می چی د شپونکی زړه لږ ښه کړم نو طوطی ته می ایشاره وکړه چی خپلی نخری دی ورښکاره کړی تر څو هغه وخاندي .طوطی می له اوږي راټوپ کړ د شپونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخی ته کیناسته او په ګډا یی شروع کړه چی ورسره یی غړونه هم کول . شپونکی چی ورپام شو نو خوله يې له خندا ډکه شوه طوطی ته یی کتل اوبیا يې وویل " وه طوطی ته خو له نخرو ډک یی هم ګډیږې او هم خبری کوی"

یو څو شیبی طوطی خپله کومیډي وکړه، بیا شپونکی په انعام کی پلی ورکړل او ماته یی یوه نوی شپیلئ راکړه ما تری مننه وکړه او ورته مي وویل " ورورره ما وبښه هسی می ستا حالت په دی دردمنه کیسه خراب کړ ومی بښه " هغه مسکی شو مننه یی وکړه او ولاړ شو خپله رمه یی مخکي کړه او روان شو په تلو تلو کي يې ما او طوطی ته لاس خوزوو د خداي په امانئ په توګه . کله چی هغه لاړ موږ د سیند خواته ورنیژدی شو شوخ شمال می د تندی ویښتان زنګول د سیند اوبو کی ښکلی بتکي ناستی وی په چمن کي کیناستو یوه کوچنی تیږه می سیند ته ګوزاره کړه د سیند په اوبو کی وړي وړي څپي جوړي شوي طوطی راته وویل " هغه د تیري شپي ستا د ژوند کیسه نه راته کوي؟ " !ما تري پوښتنه وکړه " ښه رښتیا موږ تر کوم ځایه رارسولی وه " طوطی وویل " تا چی ویل زموږ مکتب د سرک چپ لوری ته وو همدی ځایه پوری دی راته ویلی وه.

ما وویل " ښه نو کله چی ښونځی ته راورسیدم نو غوښتل می له سرکه تیر شم موټر تیز یو بل پسی تیریدل اخیر می یو لوری ته د سرک خالیګاه پیدا کړه د یوی خوا یی تیر شوم نو د چپې خوانه یو موټر می ولیده چی تیز راروان وو له ما یی هر سه خطا کړل په لاس می ایشاره ورکړه خو هغه د سحر په مستئ مست وو موټر کی یی سندره چالانه کړی وه چی تر څو تیریدم نو یو درز مي لږ واوریده نور نو په ځان نه وم پوه شوی، نوره کیسه راته موټروان داسي وکړه هغه ویل " کله می چی ته په موټر ووهلي نو حالات دی ډیر خراب وو له پاسه دی بدن لږ ښه وو خو له پزی او غوږونو نه دي وینه روانه وه په غیږ کی می راپورته کړی موټر کی می روغتون ته بوتلی خو دوه روغتونونو ونه منلی ویل یی چی ستا حالات بیخي نه دی ښه کله می چی کابل روغتون ته بوتلی او بستر مي کړی ډاکټرانو ستا په اړه مشوره وکړه تر څو ستا د سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملیات وکړی ځکه چی سر دی ډیره سخته ضربه خوړلی وه او د سر رګونه دي زیانمن شوي وو ما( موټروان) خپلی کورنی ته زنګ ووهه ټوله کیسه مي ورته وکړه خو ما نه ته پیژندلي او نه ستا کور راته معلوم وو.ټولو کورنی می د ماسپښین دوه بجې روغتون ته راغله ډاکټرانو رانه ګوتی ولږولی ځکه د سر عملیات کی هر سه پیښیدلي شول . عملیاتو خونی ته یی دننه کړی موږ ټولو لاسونه خداي ته لپه کړی وو .دری نیمی بجی وی چی د عملیات ښوني نه یی اجل واټ ته وخیژولی ډاکټرانو ویل عملیات يي تیر شو خو که روغ نه وو نو ده کی به دوه ناروغی پیدا کیږی یوه دا چی دده په ټوله د ذهن حافظه له لاسه ځی بله دا چی دا به هیڅوک ځانته نه پریدي او یوازیتوب به یی خوښ وی او دا ناروغی یي شاید دری یا څلور کاله وخت ونیسي بیرته به ورو وروښه کیږي .

موټروان ویل راته موږ ټول درنه راتاوو وو دعاګانی مو کولی "

تر همدی ځایه کیسه راته موټروان کړی وه او کله چی په هوښ شوم او سترګی می وغړولې داسی می حسوله لکه اوس چی دي فاني دنیا ته راغلم داسی وم لکه اوس چی یو ماشوم پیدا شی نه څه پیژنی او نه په څه پوهیږي هر څه راته نوي ښکاریدل او د ډاکټر په وینا ما خپله حافظه له لاسه ورکړی وه .مخي ته می پوخ ځوان ناست وو نري وچ کلک وو ږیره او بریط یی خریلی وو .دا هماغه موټروان وو چی په موټر یي وهلی وم .خو هغه وخت زه څه پوهیدم کله یی چی زما سترګی خلاسی ولیدی ځوان خپلو نورو کسانو ته ور غږ کړ " راشی هلک په هوښ شو " شیبه وروسته یو په عمر پوخ سړی او یوه ښځه راغله ټول رانه راتاوو وو . د ویری احساس می بیبني ډیر وو .شیبه وروسته یو سپینی چپنی والا چی عینکی یی په سترګو وو کوټی ته راننوت .کله چی هغه رانیږدي شو نو نورو ورته ډاکټر ویل زما بدن لړزي واخیسته چغه می کړه " تاسو څوک یاست زه چرته یم " ما همدا چغی وهلی ټولو راته ویل آرامه وسه خو ما ډیر بد حال شروع کړی وو . ډاکټر سر وخوزوو او ویویل د ده خوارکی عمر کم وو خپله حافظه یی له لاسه ورکړی ده . څنګ کی می ناستو کسانو چغی کړی او ژړل یی .زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت بيښي خراب وو .ډاکټر ورته وويل تاسو بهر لاړ شئ ټول بهر ووتل د ټولو څيرى راباندى بدى لګيدلى په خپل واک کی نه وم ما هماغسی چغي وهلي ډاکټر نرس ته ايشاره وکړه نرس يو سيرنج ډک کړ .شيبه وروسته مي د ستني درد حس کړ نور نو په ځان نه وم پوه شوي، سترګی می پټي شوی بدن می سست شو.

موټروان په سوچونو کی ناست وو د خپلی کورنی سره، زما په اړه يی فکرونه کول خو اخير يې خپل مور او پلار ته ويلي وو " زه ماشوم په دی بد حال کی خپلی کورنئ ته نشم سپارلی تر څو چی دی بيرته خپل عادی حالت ته نه وی راغلی "د موټروان پلار وويل " سمه ده خو دا به ډير وخت نيسی “ مور يي وويل " دده خوارکی ژوند خو لاړه تباه شو سل واری می درته ويلی چی هلکه دا بلا مړی موټر دی لږ په حوصله چلوه تا تری د ځلورو ټيرو جاز جوړ کړی وو " موټروان سر ښکته کړ او په ځوکۍ کی يی ډډه ووهله خپل ضمير ته ډير ملامته وو.

زما په روغتون کی لس ورځې هم تيري شوي زه موټروان او د هغه کورنۍ سره لږ سه بلد شوی وم ډاکټرانو رخصت راکړ .موټروان چی ځلاند نوميده له ځانه سره موټر کی کينولم د ځلاند مور چی يوه مهربانه ښځه وه هغه هم راسره وه زما سر يی خپله غيږ ه کی ايښی وو موټر کلار کلار روان وو دا وار يی احتياط کوو تيز يې نه چلوو .سر می په سپينه پټۍ پاستمان شوی وو لږ لږ سوځيده زړه می ډير ارامه وو هيڅ نه پوهيدم چی زه څوک يم او په ما څه شوی او څه روان دي .بدن می سست وو ځلاند مور راته وکتل مسکۍ شوه راته يی وويل " ګرانه زوی جانه ستا نوم څه دی ؟ " ما وويل " زه نو څه پوهيږم تاسو ټول څوک يی چرته ځو؟ په ما څه شوي؟

د موټروان مور سترګی نمجنی شوي ځواب يی رانه کړ موټر په يوه کوڅه وردننه شو چې دواړه خواوو ته غټي غټي بنګلي وی بيا يی ښي لورته موټر تاوو کړ د يو لوی ګيټ تر شاه يی موټر ودروو ارنډ يی ووهه يو زوړ سري دروازه خلاصه کړه موټر وردننه شو او يو څنګ ته يې ودروو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ځلاند او د ځلاند مور له لاسه نیولی وم له موټر نه يې راښکته کړم د کورنۍ غړی یی هم راغلل چی دوه انجونی او یو هلک وو زه یی د کور دوهم منزل ته پورته کړم کوټه ښه گرمه وه .ښکلی کوټه وه ځلاندوی د اقتصاد له لحاظه برابر ښکارېدل .د کوټی په تخت یی سملولم کمبل یی راباندی په پښو واچوله د کوټی گروپونه یی بل کړل ټول رانه راتاوو وو . زما سترگی پټی پټی کیدی ځلاند می په سر لاس راتیر کړ راته یی وویل " گرانه ته اوس ارام وکړه "بیا ټول له کوټی ووتل د کوټی دروازه يي راپسی بنده کړه د کړکۍ نه هخوا د مرغانو اوازونه می اوریدل کوټه کی می شاوخوا کتل ښکلی کوټه وه تیزو گروپونو کوټه ځلوله .ښکلی سره قالینه پری هواره وه توشکونه پری پراته وو یوه ښایسته لویه د سامان نه ډکه الماري هم وه .فکر می گډوډ وو ذهن کي مي هیڅ نه راتلل سترگی می پټی کړی له یوازیتوب می خوند اخیسته"

طوطی راته کتل، بیا د سیند غاړی ته ورنیږدي شو اوبه یی څښلي .زه هم ورغلم مخ ته مې د اوبو لپه واچوله اوبه یخي وی بیرته مو په چمن کي ډډه ووهله طوطي ته مي د انگورو دانی واچولی کله مو چی انگور وخوړل طوطی وویل " کله چی ته ویده شوی نو بیا"

زه په چمن اوږد وغزیدم د سر لاندی می جوړه لاسونه کېښودل ومي ویل "کله می چی سترگی خلاسی کړی ساعت ته می وکتل د ماذیگر څلور نیمي بجې وی لاسونه پخی می سست وو د پاسیدو وسه می نه درلوده ډیر په زحمت می د کړکۍ په لور اړخ بدل کړ د کړکۍ نه لاندی باغچه ښکاریدله قسم قسم گلونه پکی وو له هر گل نه یو یو بلبل تاویده د گلونو خوشبیو می حس کړه .دا مال دولت هم عجیبه شی وی غریب سړی خو تباه وی اوړی کی یی ماشی چیچی او په ژمی کی یی یخني ژامی رپوی په شکیدلی کټ کی به شپه تیروی سټړی ستومانه به وی همیش به ورسره د سباه ورځی غم وی، چی بی ډوډي او په لوږه پاتی نشی، بس همداسی غمونو بي وخته سپین ږیری کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مي چي سر پورته کړم خو ډېر دروند شو بیرته مي پر بالخت کیښنوده شاوخوا می وکتل کوټه کی څوک نه وو لږه شیبه وروسته زما د کوټې دروازه خلاسه شوه ټول رانوتل د ځلاند مور سره خواږه وو ځلاند خور سره چای وو ټول زما نه راتاو شول د ځلاند پلار راته په سر لاس کیښنوده راته يي وویل " بچو اوس سنګه یی ما وویل " زه خو ښه یم ولی په ما څه شوی"

د ځلاند مور مي سر راته جګ کړ لاس يي راته د ملا لاندی کړ او په کلاره یی کینولم په کاپ کی یی کیک نیم کړ ماته يي ونیوه او ویویل " زویه هله خوله دی وازه کړه او دا وخوره چی خدای دی بیرته ژر روغ کړی زما زړه بیبښی بند وو .انکار می وکړ د ځلاند مور بیا وویل " خیر دی زویه  هله نو وخوره ډېر خوند کوی خوله دی وازه کړه هله زویه " مجبور یی کړم د کیک نه می لږ چک ووهه په خوند یی نه پوهیدم د ځلاند مور مسکۍ شوه او په ناز ناز يي راباندی یو پیاله چای او یو کیک وخوړو داسی چلن یي راسره کوو لکه خپل سکه زوی چی يي یم.

کله می چی یو پیاله چایی وڅښه نور می سوچ انکار وکړ ځلاند می خوله په دسمال پاکه کړه په اوږه یی راته لاس کیښنوده خواته یی رانیژدي کړم او ویویل " دغسي زما ګرانه زمریه خوراک ډېر کوه چی ژر ښه شي"

د ځلاند خویندو خپلو کی پسیدلي او ماته یی راکتل یوي وویل څومره ښکلی هلک دی هغه بلی یی وویل څومره معصومه څیره يي ده په دې کم عمر کی یی څومره لویه صدمه ولیده.

همداسی وختونه تیریدل او لس ورځي پس می یو ډاکټر د سر پاستمان خلاس کړ"

زما له سترګو اوښکی روانی وی طوطی راته وویل " هیله کوم مه ژاړه هله سترګی دی پاکی کړه بیا یی راته وویل " راځه چی ځنګله ته ځو نوره کیسه به راته بیا وکړی ما سترګی پاکی کړی ولاړ شوم طوطی می په اوږه کیناسته او د ځنګله په لور روان شو طوطی وویل " راځه چی یوه ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**درته وکړم خو په دی شرط چی ته به یی هم راته کوی " ما وویل " سمه ده خو اول به یی ته راته کوی " طوطی وویل " سمه ده وی یو کنجوس بام سرته ختلی وو ښځی یی په تناره ډوډي پخوله کله چی د بام سر نه په راپریوتو کی شو ښځي ته یی غږ کړ وه ښځي یوه ډوډۍ کمه پخه کړه زما پته نه لګی"**

**طوطی زه له خندا شین کړم ما ورته وویل " اوس نو ماته غوږ شه، یو سړي وو په یوه سترګه به يي خلکو ته کتل او بله به يي پټه کړي وه خلکو تري پوښتنه وکړه دا بله سترګه دي ولي پټه کړي سړي ورته وویل چي دا یوه کار کوي نو څه ضرورت چي دا بله سترګه استعماله کړم، فضول خرچي ښه شی ندی"**

**ما او طوطی په خبرو خبرو کې ځنګله ته ورسیدو په ځنګل کې مو ښه ساعت تیر کړ او د ښکار کولو وروسته بیرته مازیګر جونګړی ته راغلو .د شپې له ډوډۍ خوړلو وروسته مو بیا د جونګړی نه بهر اور بل کړ، زه او طوطي دواړه سره کیناستو، په اسمان کی ستوری پړکیدل د اور د سر نه سپرغۍ پورته الوتلی طوطی وویل " خا ستا کیسه تر دي ځایه وه چي .... کله چی ډاکټر ستا د سر پاستمان خلاص کړ نو بیا"**

**ما وویل " د هغوۍ سره می شپې او ورځي سبا کیدلي خو زما زړه ورسره ډیر تنګ شو که څه هم چې هغوی به ماته ډیره مینه را کوله زه یی په هر څه موړ ساتلم خو زه يي بهر وتلو ته نه پریښودلم ځکه حالت می تروسه سم نه وو .تل به غلی وم یوازیتوب کی به می زړه خوشحاله وو خو نور تیښتې ته اړ شوی وم زړه تنګون مي ډیر وو هماغه وو چی یوه شپه می د تلو اوتیښتي پلان ونیوه د کوټې دروازه یی نن شپه خلاصه پریښوده همدا موقعه مي ومونده کله چی دولس بجی شوي ولاړ شوم د خپلی کوټي له الماریۍ نه می ټولی روپۍ راواخیستی او خپل کالی مي هم چی هغوی راته کړی وو یو بیک کی مي کیښودل او له ځان سره می واخیسته، له کوټې کرار راووتلم تیاره وه لاسی برق می ولګوو په پوړیو لاندی منزل ته راښکته شوم، یوه خوا ویره او بله تیاره وه بدن می لړزي اخیستی وم خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دا هر څه داسی احساسول لکه دا هر  څه چی خوب وی ګنګس وم خو طوطی ګله کله چی حویلئ ته راووتلم اسمان کی څوارلسمه سپوږمئ ځلیدله ستوری تری راتاوو وو یوه شیبه لکه د لیونو غونډې ورته ودریدم او بیا روان شوم کله چی د حویلئ دروازی ته راغلم غلی می وکتل څوکیدار ویخ وو د وتلو لاره می نه وه . ناهیلي شوم بیا مي باغچی ته وکتل دروازه یی خلاصه وه او د باغچی دیوالونه هم واړه وو باغچی ته ننوتلم د باغچی له دیوالونو هخوا د کوڅی سرک وو .ورو ورو د دیوال په لار روان شوم یو دم می د نارنج د ونی ترشاه یو غږ واوریده ژر د ونی شاته پټ شوم د یو لاسي برق رڼا هم ښکاره شوه کله چی لږ لری شو نو ومې لیده چی د ځلاند پلار وو زړه می بي واره ټوپونه وهل ډیر یی وډار کړم تنفس می په چټکئ تر سره کیده ساه ساه وم، سترګی می د یو شیبی لپاره پټی کړی بیا می اسمان ته وکتل سپوږمئ می سترګی وبریښولي بیرته د دیوال په طرف روان شوم دیوالونه واړه وو یوه پخه می د دیوال په سوری کی بنده کړه لاس می پاس د دیوال نه راوتلی وسپنه کې بند کړ .ورجګ شوم ددیوال هخوا نژدی یو موتر ولاړ وو بیک می راوچت کړ په موټر مې پښه کیښوده او په اسانئ سره لاندی کوڅې ته راښکته شوم ، کوڅه کی رڼا وه د کورونو مخی ته ګروپونه بل وو کرار کرار سرک ته راووتلم.

له ځان سره می سوچ وکړ چې چیرته لاړ شم تر څو یوازي او ازاد ژوند وکړم موټر روان وو یوي ریکشي ته می لاس ونیوه وروختم رکشه وان رډی سترګی راته نیولی وی ورته مي وویل " یو هوټل څنګ  ته مي ښکته کړه د هوټل مخي ته یی ښکته کړم هوټل ته ورغلم بیک هم راسره وه ورته هوټل اداري ته ورغلم ورته مي وویل " یوی کوټی څومره کرایه ده؟ "هوټل والا راپوری وخندل او ویویل " ځه لیونیه لاړ شه کور نلری ته خو لا تر اوسه ماشوم یي دلته څه کوي " !هوټل والا ملامت نه وو ځکه زما عمر زما د کارونو سره جوړ نه وو اخیر می ورته روپئ ډیری کړی هوټل والا خوشحاله شو خو په شکمن نظر یي راکتل نور یی سه ونه ویل له یو بل سړي سره یی پاس منزل ته وخیژولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټه یی راته په نښنه کړه کیلی یی راکړه د کوټی دروازه می خلاصه کړه ښایسته کوټه وه هر څه پکی منظم ایښي وو بیک می پر ځای کړ د المارۍ مخی ته ودریدم ځان می شیشه کی ولیده هیران شوم بیبني بل ډول مي احساس کوو له خپل عکس سره می خبری شروع کړی " ته به اخیر څوک یي "یو دم می وخندل .سترګي مي پړسیدلي ښکاریدي خوب راتله ګروپ می بند کړ تخت کی سملاستم

سحر وختی می چاي وڅښه له هوټل نه راووتلم کوټه مي قلف کړه لاندی په ډک بازار کی روان وم پیاده مزل می کوو خلکو ته هیران وم چی دوی څوک دی او څه کوی دا زما لومړي وار وو چی له ډیر وخت وروسته آزاد شوم د روغتون نه د راوتلو تر دی ورځی دا می لومړی وار وو چی دومره آزاد و ګرځیدم همداسی کلار کلار روان وم یخ باد می د سر ویښتان په تندي زنګول یو ګاړي می مخی ته ودریده ما ته شیشه کی ډرایور نه ښکاریده کله چی راښکته شو ومی پیژنده هماغه ډاکټر وو چا چی زما د سر عملیات کړی وو زه ورسره ځکه ډیر بلد وم چي زما د صحت ټوله زیمه د همده په غاړه وه او هر وخت به راسره وو .زه یي له لاسه ونیولم موټر کی یی کینولم راته وویل " هي ته دلته څه کوی؟ !هغه ځلاند دوي نه راتښتیدلی یي کنه؟ ولی تری راوتښتیدي - ما وویل " هغوي زه بهر نه پریښودلم زما زړه یی تنګ کړی وو هیله کوم ما هلته مه بوزه هیله کوم خیر دی"

کله چی داکټر زما معصومیت حس کړ د تسلیت لپاره یي راته وویل" سمه ده هلته دی نه بوځم زه دی خپل کورته بوځم هلته به ما سره ژوند کوی زما هسی هم زوی نشته هر سه چی غواړی زه دی په خدمت کی یم لوبو ځایونو ته دي بوځم " زه ډیر خوشحاله شوم هغه له ځانه سره کورته بوتلم کور یي ښایسته وو خواکی یی شین باغ هم وو کله چی کورته یی بوتلم ډاکټر خپلی ښځی ته زما په هکله کیسه کړی وه هغي هم ورسره ومنله چی نن نه پس زه د همدوی زوي شوم د ډاکټر یوه لور وه     شپه او ورځ به می ورسره لوبی کولی ډاکټر او د ډاکټر مېرمني ماته د خپل مور پشان مینه راکوله ددی نه وروسته طوطي ګله زما پالنه ډاکټر شروع کړه د وخت په تیریدو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر راته خپل پلار او د ډاکتر ښځه راته خپله مور او د ډاکتر لور چې وړانګه نومیده راته خپله سکه خور ښکاریده .

کلونه تیریدل زما پلار( ډاکتر)په ما او وړانګې باندی مکتب په لومړی درجه پای ته ورسوه . د کانکور امتحان او ډېرو مطالعي وروسته زه او وړانګه طب پوهنځي ته بریالی شو وخت سره کله چی له طب نه فارغ شو نو د پلار په روغتون کی ما او وړانګی دنده پیل کړه . مور او پلار راته ډیر خوشحاله وو او زما دا یو لوئ ارمان وو چی د پلار سره روغتون کي دنده ترسره کړم هغه وخت نو زما ناروغی بیبني هیره شوی وه هر څه راته سم ښکاریدل د تیر وخت په اړه به مې نه سوچ کوو او که کوو به مي هم نو هیڅ به نه رایادیدل، خپل اصلی مور پلار خور ورور خو ما بیبنی هیر کړی وو خو کله به مې چې د کلي او کلیوال ژوند په اړه یو څه واوریدل یا به می ولیدل نو په ذهن کی به می کش مکش پیدا شو او یو څه به راپیاد شو خو بیا به می پری هم دومره فکر نه کوو ځکه د زما د ځوانئ مستی شیبی وی .زما عمر تقریبا شل کاله وو او وړانګه زما څخه دوه کاله کشره وه یعنی اتلس کلنه وه.

وړانګه ډیره شوخه وه وخت نا وخت به یي زه زورولم وړانګه زما هم خور او هم ملګري غوندي وه کله به یی ملګرو ته زما په اړه داسی هم ویل "هاغه ډاکټر مي ورور دي امتحان کي به ما نقل ورکوو هغه ما کامیاب کړي نور په هیڅ نه پوهیږي هر واري به تري په سیتاج مرحله کي چنګښه تري مرداریده"

کله به وړانګي راته د روغتون توره خاله ښودله او راته به یي ویل چی " تاته به دا غواړم که ودی کړه تو مزي به دی وی دواړه به روغتون کی یی او زما تر امر لاندی به کار کوئ " دا به یی وویل او وبه یې خندل له ما به یې منډه کړه خو ما به ورته بیا داسی ویل " ته خو شیشکه یي او سیده دی د چنګړیانو کوځي ته بوځم او هلته درباندی بنګړي خرځوم ته خو هسی هم شیشکه یی په زور به له خلکو پیسی هم اخلی خو خیر تنخوا به درته زه وټاکم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو طوطي ګله دا او دې ته ورته ټوکی به مو هله کولی کله به چی روغتون کی زموږ د چایو دمه وه ټول ډاکټران به راټلل زموږ روغتون ته چی مشر یی زمور پلار وو په کابل کی یي ځانګړي نوم درلوده زموږ روغتون خارجی ډاکترانو هم پکی دنده ترسره کوله ، ډیر عصری وو د سحر له اوو بجو تر ماښام شپږو بجو پوري به ما او وړانګی کار کوو ماښام به موږ تری راتلو په خپل موټر کی او پلار به مو ناوخته راته کارونه به یی ډیر وو .**

**زه د کابل د ښار په رنګینیو کی ډوب وم هر څه یی رانه هیر کړی وو .خو کله به می چی د کلی په اړه کومه خبره واوریده نو فکر به می خراب شو یو څه به می ذهن ته راتلل خو نه به پوهیدم.**

**د پلار مور سره می دا خبره شریکه کړه دی وخت کی وړانګه هم ناسته وه .مور او پلار مې یو بل ته وکتل وړانګه هم چی زما په کیسه پوهه وه ماته یی غلی راوکتل بیرته یی سترګی ښکته کړی زه نور هم حیران شوم او دا فکر می زړه ته شو چی ولی دوی داسی بل ډول احساس وکړ آیا په ما کی کومه ستونزه ده؟**

**لږ سه خاموشی شوه زما زړه کی وسوسی زیاتیدی پلار مي( ډاکټر )مسکی شو او راته یی وویل " څه خبره نشته دا خو وړه خبره ده په زهن دی بوج مه اچوه که د روغتون کار درباندی زیات وی نو کم یی کړه روح دی تازه ساته د کار کولو په وخت فکر دي ټول کار ته ساته او رخصت ورځو کي تاته اجازه ده چکري وهه بل علت یي دا هم کیداي شي کله چی ته وړوکی وی په ماشومتوب کی دی درز خوړلی وو چی سر دی ډیره ضربه خوړلی وه شاید د همغی وجه وی زویه"**

**ما له ځانه سره وویل ایا دا ستونزه د کلی پوری څه اړه لري نه پوهیږم چی څه کیسه ده؟ د دی خبرو په اړه می فکرونه نور هم ډیر شو او تشویش مي کوو او یو ډول شک راته پیدا شو"**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طوطی ته می وکتل سترگی یی مړی مړی کیدی اور هم په مړ کیدو وو اور ته می تیز پوکی ورکړ اور تازه شو طوطی غلی راکتل لکه زما د کیسی انتظار چی کوی یو سوړ اسویلی می وویسته او بیا می وویل**

**" زما پلار یعنی هماغه ډاکتر او زما مور یعنی د ډاکتر میرمن ته زما ددي ستونزي په اړه یو ډول ویره هم پیدا شوه او په دی ډاریدل هسی نه چی ټول تیر ژوند ما ته رایاد شی او خپله کورنۍ هم رایاده شی نو د همدی په اساس به یی زما د همدغی ذهنی ستونزی په اړه زما ډیره پوښتنه کوله خو زما هم له ذهنه نه وته.**

**له یوه طرفه داکتر زما سره لویه دوکه روانه کړی وه .زما د مور پلار ورور خور احساس او فکر ورسره نه وه خو له بل طرفه یی زما لاس نیوی وکړ او زما په داسی بد حالت کی ماته د یتیم او یسیر احساس رانه کړ په ما یي ټول ارمانونه پوره کړل له ما يي یو تکړه ډاکتر جوړ کړ د بادشاهۍ ژوند یي راته جوړ کړي وو خو که دوی نه وای خدای خبر چی زه به دومره وخت ژوندی پاتی وم!**

**وخت تیریده په کابل کی د یخنۍ موسم رخصتی شوه یوه اونۍ زموږ پر ځای يي نور ډاکتران وګومارل د تل په څیر زما پلار د لندن په چکر له ملګرو سره تله .وړانګی هم ویل چی پلار سره به لندن ته لاړ شو خو ما بیا نه منله ما ویل چی دا وار به د خپل هیواد نورو ولایتونو ته چکر وهو وړانګی سترګی مړاوی شوی زما خبره یی ومنله دمور په کوټه کی ناست وو مور مي هم راغله پلار می میلمنو سره وو مور سره مو د چکر خبره شریکه کړه هغي هم وویل " سمه ده لاړ شۍ زه به هم خپلو ورونو کره په چکر لاړه شم " وړانګی په تخت ډډه ووهله او ماته یی راکتل خپل موبیل یی لاس کی اړوو راړوو او سوچ کی وه کله چی ما وروکتل مسکۍ شوه راته یی وویل " ته خو سردار یی دادی ستا می ومنله ستا په خوښه دا ځل په هیواد کی درته چکر درکوم " ما تری مننه وکړه وړانګي به همیش ماته کتل زه پرې ډیر ګران وم هیڅ کله به له ما نه جدا کیدله زه نه پوهیدم چی وړانګه ولی داسی راته ګوری خو هغی بیا له ماسره ځکه مینه لرله چی زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی اصلي ورور نه وم خو ماته به د خور غوندی ښکارېدله ما وړانګی ته وکتل ورته مي وویل " ته اوس ولایت وټاکه سر له سبا په چکر ځو لخیره"وړانګي وویل " داسی چی ده نو ننګرهار ولایت ته ځو " ما ورسره ومنله خو د ننګرهار نوم اوریدو سره می داسی حسوله لکه دي نوم سره چي له مخکی هم ډیر عدت وم له هماغي ګړئ نه مو مور د سفر لپاره بیکونه تیار کیښودل پلار می هم راغي له هغه مو اجازت وغوښته خوشحاله شو د جیب خرچه یی هم راکړه که څه هم موږ سره د هیڅ څه کمي نه وو

طوطي ګله د سحر ناشته مو وکړه ما او وړانګی ځان تیار کړ اوس به یی نو راته بی وخته خندل کله چی بهر راوتلو ښایسته واوره وریده ټوډي موټر کی کیناستو د موټر ایسي مو ولګوله شیشی مو بندی کړی وړانګه راسره مخکی سیټ کی کیناسته په بسم الله مو سفر شروع کړ او له کوره ووتو. بهر په کوڅو کی د ماشومانو چغی وی یو بل یي په واورو ویشتل او خندل یی یوي بلي ماشومي منډي وهلی ما وړانګی ته وکتل ورته مي وویل " څومره ښایسته موسم دی ښکلی واوره دا ګلونه ماشومان "

وړانګي کی ژر وویل او بیا زه له تاسره ما وویل " ما خو نه ویل خو تا وویل نو زه به هم ووایم چی ته راسره یی " وړانګي ځان مرور کړ ما ورته وویل "اي لیونۍ ته خو می زړه یی زما ګرانی خور جاني " وړانګي وویل " سمه ده سمه ده ډیر مالش مه لګوه اوس او ریښتیا دا خو نهه بجی شوي ته شمشاد راډیو ولګوله صبح بهارا خپرونه به شروع وی "ما وویل "هو رښتیا ښه دی چی رایاد دي کړ " د موټر رادیو می ولګوله موټر مي عمومی سرک نه وویسته واوره لا هماغسی وریده .په تور سرک داسی ځلیده لکه څوک چی په تور ټکری کی سپین غمی ولګوی.

په رادیو کی شهلا عظیمی په خندا او ټوکو سره خپرونه شروع کړی وه .د میوزیک سره سره شهلا نیمه ماته ګوډه پښتو ویله . دا خپرونه زما او د وړانګی بیا ډیره خوښیده هر وخت به مو اوریدله وړانګې وویل " نن به یی کومه پوښتنه له اوریدونکو کړی وی " ما وویل " زه نو څه خبر یم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپرونه مو ښه په خوند اوریدله او موټر می په چټکۍ سره روان کړی وو ټوکی مو هم سره کولی.**

**همداسی غرمه جلال آباد ته ورسیدو کله چی ښار ته راښکته شو نو دا هر څه راته بلدی بلدی حس کیدل لکه پخوا چی می دلته راتګ کړی وو .که څه هم چې دا زما لومړی ځل وو چی دلته راغلم.**

**په ښار کی یو عصری هوټل ته ننتونو یوه کوټه مو په کرایه ونیوله غرمه مو هملته تیره کړه .سامان مو کوټه کی په ځای کړ د سفر ستړیا مو وویسته او ارام مو وکړ د ماسپښنین له لمونځ وروسته مو خپله کوټه قلف کړه او بهر ووتلو وړانګي وویل " راځه دلته به یو پارک وی هلته به لاړ شو " ما ورسره ومنله امیر شهید باغ ته لاړو دومره ګڼه ګونه وه اسمان وریځن وو د ماسپښنین مهال وو په پارک کي مو چکری ووهلی چایی هر څه مو وکړل عکسونه مو هم وویستل ماښام بیا د هوټل په لور روان شو د ښار د رنګینیو سیل مو کوو .ماسخوتن مهال وو هوټل ته راورسیدو.**

**وړانګی بالخت ته ډېره وهلې وه موبیل کی یی دپارک عکسونه کتل . زه په جاي نماز ناست وم لمونځ مي پوره کړی وو وړانګي وویل " ښه لخیره سبا به چیرته ځو ما وویل " دا واری به یو ولسوالي ته لاړ شو " وړانګې وویل سمه ده ولسوالی ما لیدلی ښکلی شین باغ او شین ښې غوندی ده ښکلی سیند هم لری ښکلی کلیوال ژوند لری د وړانګي کلیوال ژوند خبري په اړه مي بیا یو څه رایادیدل وړانګی ته مي بیا وویل " وړانګي چی په ما به څه چل یي چی د کلی نوم واورم نو بیخی می طبیعت بل رقم شی یو څه می ذهن کی ګرځی خو نه پوهیږم چی ولی می سم نه یادیږي وړانګه وپوهیده . چی دده نور همدا وخت دی چی هر څه به مي یاد شی . راته یی وویل " کله چی هغه ځای یا ولسوالۍ ته لاړو نو خپله به په هر څه پوی شی " ما وویل "نو په څه به پوی شم؟ " وړانګی څه ونه ویل سترګی یی نمجني شوي ما پری ډیر ټینګار راوسته خو هغی به بیا خبره په بله کړه .له یوی خوا وړانګي غوښتل چی خپله کورني او اصلی ژوند راته وښایی تر څو خپل صداقت او د مینی اظهار راته وکړی خو له بلی خوا ویریده چی هسی نه ما**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لاسه ورکړی ځکه وړانګه پدی پوهیدله چی زه د هغه خور نه یم او هغه زما ورور ندی نو له دې کبله یی راسره مینه وه .وړانګی وویل " ګوره دا خبری پریده ژر چای راوړه چی چای وڅښو"

زه لاندی ښکته شوم په چای والا باندی رش جوړ وو لږ وخت وروسته بیرته د هوټل کوټی ته ننوتم وړانګی رانه چای پیالی واخیستی او ډکی یی کړی وړانګی وویل " اوس نو موبیل کی لډو راواړوه چی لډو وکړو، لډو مو پیل کړه له چایو او لډو کولو وروسته ویده شو کله چی مو د سحر چاي وڅښه وړانګي راته وویل " نن هماغه ولسوالی ته ځو زه چي درته کومه لاره ښایم په هماغه به ځو "

دواړه موټر کی کیناستو موسم بارانی وو . ورو ورو د وړانګې په لارښوونه د یوی ولسوالی په لور روان شو کله چی څومره ولسوالۍ ته نیږدی کیدم نو ورو ورو می ذهن په کار شروع کیده , وړانګی راته وویل " عکیفه زه غواړم یو څه تاته ووایم او که  یي ونه وایم نو ته به ولسوالی ته په نیژدي کیدو کی خپله په هر څه پوئ شی.

ما وویل " وړانګي دا ته څه ډول خبری کوی زه خو ستا په خبرو نه پوهیږم وایه څه راته وایی؟"

وړانګی د موټر په شیشه سر کیښوده او د ونو شنو باغونو ته یی کتل چی په منډه منډه تیریدل او ویویل " عکیفه تاته خپل وړکتوب یاد شی ؟ "ما وویل " نه زما د وړکتوب په اړه هیڅ نه یادیږي آیا تاته هم یادیږی چی زه څنګه وم نه پوهیږم یواځي مانه خپل وړکتوب له یاده وتلي او که تانه هم؟ " وړانګې وویل " ماته هر څه یاد دی او شاید ډیر ژر تاته هم یاد شي . غواړم تاته هر څه ووایم خو ویریږم چی تا له لاسه ورنه کړم"

ما موټر یو وړوکی بازار نه تیر کړ مخ په وړاندی روان وو د وړانګی په خبره لږ وډار شوم ورته مي وویل " هیله کوم ما مه پاژابوه سمه خبره راته وکړه هسی می هم طبیعت  خراب دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګې وويل " دا ډيره اوږده کيسه اه !! ته پوهيږې ګرانه ته زما ورور نه يې او نه زه ستا خور يم"

ما نور څه ويل غوښتل خو وړانګې په اشاره وپوهلم چې ماته غوږ شه بيا يې ورزياته کړه او ويويل " کلونه وړاندې ته د همدې کلي اوسيدونکې وې يو ځا دلته په موټر وهلي وې بيا موټروان ته زما د پلار روغتون ته راوستې ستا حالت خراب وو هماغه وو چې تا خپله حافظه له لاسه ورکړه او ذهني ناروغ شوې مياشت وروسته موټروان له ځانه سره کورته بوتلې له هغه کوره ته وتښتيدې بيا زما پلار ليدلې وې له ځانه سره يې کورته راوستې زما پلار پرته له ما کوم اولاد نلره نو ته يې خپل زوي وګڼلې او زه يې درته خور معرفي کړم، خو دا هر څه رښتيا نه دي کله چې تا زموږ کور کې استوګنه پيل کړه زموږ کور کې برکتونه پيدا شول کله چې د پيغلتوب مرحلې ته ورسيدم، نو زما زړه له تاسره بندې شو ما نور نشو کولې چې دا هر څه وزغمم او ستا دا د خور خور چې ماته به دې ويلې دا الفاظ مې نور نشو زغملې .دوه مياشتې مخکې مې ستا د اصلي کور او اصلي ځاي په اړه څيړنه پيل کړه هغه ځاى چې ستا پخوا استوګنځي وو هغه همدا ولسوالي ده . هيله کوم ګرانه ته مې مينه يې زما زړه يې ما يواځې مه پريده"

کله چې ما د وړانګې دا خبرې واوريدلې سترګي مې رډې وختلې .حيران وم چې څه ووايم خو کله چې مې د خپل کلي په مست او ځپانده سيند سترګی ولګيدلې هر څه مي ذهن ته راغلل ، اها دا هغه سيند وو چې وړکتوب کې به ما له خپل ورور مشال سره به پکې لامبل .

له خولې مې اخ اخ الفاظ وتل نور موټر چلول رانه نه کيدل .حالت مې ډير خراب شو مخ پر وړاندې په تور سرک روان وو .يوې خواته د ونو شاته د سيند اوبه په ګړز سره روانې وې بلې خوا ته د لويو پټيو شاته اوږدي اوږدي کلاګانې ښکاريدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګي زما حرکات څارل او ژړل يی زما په ذهن کی د تير ژوند ټول يادښتونه راتازه شول، کله چی لږ مخکي لاړو يوي لوری ته يو لوی مکتب په نظر راغی دا هاغه مکتب وو چی زه به مې له ورور سره ورته راتلم.

د کلی نقشه هماغسی وه خو يو څه بدلون يی کړی وو کلي کي نوری نوی کلاګانې هم جوړي شوي وی . د مکتب څخه لږ مخکی می موټر ودروو نور می د زړه طاقت نه وو چی دا هر څه وزغمم.

موټر نه ښکته شوم شاوخوا می وکتل خپل مور پلار ورور او کوچنۍ خور راياد شو.ل په لوړ غږ مي وويل " اه زما مور به اوس هم ماته انتظار وی؟ ! يا خدايه دا څه ډول حالت شو ؟ "وړانګه هم له موټر نه راښکته شوه زه د خپو په سر ناست وم سلګی می وهلی وړانګي راته په اوږه لاس کيښوده، ژړا می په غوصه بدله شوه د وړانګي لاس می ټيل وهه ورته مي وويل " ځه ورکشه ما نور يوازی پريده تاسو له ماسره دومره لويه دوکه وکړه د خپل زوی په توګه مو رانه کار واخيسته او زما د کورنی په کيسه کي هيڅ نشوی خدای دی داسی درد تاسو ته درکړی لکه نن ورځ مو چی ماته راکړ"

وړانګی تر دې دمه زما غوصه نه وه ليدلی خيز يی ووهه شونډی يی مرۍ شوۍ راته يی وويل " دا هر څه زما د پلار له لاسه وشو مور می ورته ډير وويل چی ستا کورنۍ پيدا کړی او ورته دی وسپاری خو پلار مې نه منله نور ما نه غوښتل چی تا دی نا خبره پريدم .هيله کوم ما وبښه "زما زړه له فريادونو ډک وو .خپل کور راياد شو مخی ته می د شفتلو پټی وو هر څه می په مکمله توګه راياد شول . ولاړ شوم په کلار کلار د شفتلو د پټيو په پوله روان شوم آسمان هم وريځجن وو نری نری باران وريده وړانګه راپسی غلی راروانه وه .شاوخوا می کتل په کلی کی خاموشی خپره وه. دا اوس هغه پخوانی کلی نه وو پاتی داسی راته ښکاريده لکه طوفان چي پری تير شوی وی .تر لری په پټيو کی يو نيم دهقان اوبه خور کوو چی زموږ په ليدو يي حيران حيران راکتل زه د خپلی کورنی په فکر کې وم چی هغوی ټول به اوس څنګه وي چيرته به وی له پټيو هخوا کوځی ته ورسيدو زما له سترګو نه بي واره اوښکی روانی وی خپل حالت مي د قيامت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې نه هم سخت احساسوو ، باران هم وريده پخي مې په سستيدو وی په کوڅه کی هیڅوک نه ښکاريدل خو د یو نیم کور څخه به د ماشوم د ژړا آواز راتله په نيژدي کيدو سره مي د کوڅي په اخير کی د خپل کور خړ اوږده ديوالونه وليدل، ګامونه مي ګړندي کړل ژړا مې زور واخيسته.

طوطي ګله زموږ د کور مخی ته يو کور وو چی يو سړی تري راووته دغه کور زموږ د همسايه وو .له لری يی راکتل کله چی ورنيژدی شوم خپل کورته د دروازی شکيدلی پرده مي وليده وړانګه راپسې لکه د سيورې راروانه وه د کور دروازی ته ورسيدم سړي رډ رډ راکتل ما ونه پيژنده لږه شيبه د دروازی شاته ودريدم د زړه درزار می په غوږو آوريده په کور کی خاموشی وه هيڅ د چا غږ مي نه آوريده . په زړه می درد شو سترګی می پټی کړی لاس می ور تير کړ دروازه مي ټيل وهله خو لاس می مخکی نه تله څو واری می دروازه ټيل وهله خو دروازه نه خلاصيده .سترګی می خلاصی کړی دروازی ته می وکتل لاندی غټ قلف ورته پروت وو .د دروازی خولی ته کيناستم په چغو چغو می وژړل .هماغه کور مخي ته ولاړ سړی راغی راته يی وويل " وروره تاسو څوک يی؟ دلته دروازی سره څه کوی "سړي ته می وکتل سترګی يی راباندی خوږي ولګيدي لکه کلک دوست می چی وی ما ورته ووېل " وروره ددی کور والا خلک څه شول او ستا نوم څه دی "سړي ووېل " زما نوم کمال دی"

ما د کمال د نوم په اوريدو سره کمال ته غاړه ورکړه طوطي ګله کمال زما پخوانی د ماشومتوب ملګری وو، کمال حيران وو ما ورته په چغو کی وويل "زه .....زه عکيف يم !! ددي کور ورک شوی هلک يم "!! کمال زما د نوم په اوريدو سره حق پک شو سترګی يی رډی شوی او څو ځلی يی زما نوم تکرار کړ څه ته عکيف يی! ؟"

دا خبره يې وکړه او کلک يی غيږه کی ونيولم په چغو يی راسره وژړل او راته يی وويل " عکيفه دا ته چيرته وی ولی دی دومره ناوخته کړه ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمال همداسی د فریاد چغي راته وهلی وړانګه هم چی خوا ته مي ولاړه وه ژړل یی.

کله چی زموږ سلګۍ غلی شوی کمال می پر اوږه لاس کېښود او ما ورته وویل " هیله کوم زما مور پلار ورور خور څه شول هغوی چیرته دی؟"

کمال وویل " اه ولی دی دومره ناوخته کړه !! کاش چی ته مخکی راغلی وی او ستا کورنۍ " !!

کمال دی خبرو سره بیا په ژړا شو راته یی وویل " ستا د کورنۍ ټول غړی همدی کلی کی دی، دومره لری نه دی تللی"

کمال زه له لاسه ونیولم او په یو لور یی روان کړم کمال ته مي وویل " ته می چیرته بوځی هیله کوم ماته می خپله کورنی راوښایه"

کله می چی پام شو کمال زه د کلی د هدیری په لور روان کړی وم بدن می سست شو په سترګو می تیاره راتله کمال مي له لاسه کش کړ هغه راته وویل " هیله کوم عکیفه ارامه وسه زه دی خپلی کورنۍ ته بوځم ستا کورنی اوس له غمونو خلاسه شوی ده اوپه خواږه خوب ویده دی"

دده په خبرو می د تلو او ودرېدو توان له لاسه ورکړ .د هدیری څنګ ته پر ځمکه پریوتلم له یوه لاسه کمال او له بل لاسه وړانګی ونیولم او راپورته یی کړم.

هدیری ته یي رادننه کړم .د څلورو قبرونو مخي ته یی کینولم .کوم کلیوال به چی لیدلم نو را منډي به یی وهلی او حیران به وو یوي خواته مي کمال او بلی خواته وړانګه کیناسته.

زما حالت خراب و و خدای خبر چی ما به په هغه شیبه څه ویلي او څه حالت به مي وو .کله چی په هوښ شوم لومړي قبر ته مي سترګي نیغي شوي .کمال وویل " دا ستا د مهربانی مور قبر دی " اه څومره دردونکي صحنه وه .ورنیزدی شوم په قبر می سر کیښوده او داسی می وویل " ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورجانی تا ولی ماته انتظار ونه کړ او یواځی دی پرېښودم، دومره ژر بی وفا شوی تا به ماته ډیر انتظار کړی وی پاسه مورجانی دا دی زه راغلم ما خپلی سینی  ته جوخت کړه هماغسی می بیا ښکل کړه کنه موري ته ولی زما نه دومره لری لاړی او مروره شوی رانه موری ته پوهیږي پر ما څه وشول زه د ښاریانو د پنجو لاندی گیر وم موری له ما نه یی تاسو ټول هیر کړی وی .... موری ما ډیر وبښه هیله کوم موری یوځه خو ووایه کنه ... وگوره موری ستا ارمانونه ما پوره کړل ...موری دا دی زه ډاکټر شوم موری ستا زما زلمیتوب ته سترگی وی موری اوس اوگوره کنه زه ځوان شوی یم..... هیله کوم زه بی له تا ژوندی نشم پاتی کیدلی زه تاته ډیره اړتیا لرم ته می روح یی مور جانی هیله کوم ماته د یتیم او یسیر لقب مه راکوه"

سترگو می اوښکو ته ایجازت ورکوو او لاری یی زما په مخ جوړی کړی وی.

طوطی راته مخي ته ودریده راته یی وویل " بس کړه عکیفه نور دی ځان مه زوروه ناوخته دی راځه چی نور ویده شو ستا د ژوند کیسی خو زما زړه او به کړه"ما سترگی پاکی کړی ولاړ شوم پوزه می کش کړه اوږده ساه می وویسته سوړ اسویلی می له خولی ووته.

آسمان کی ستوری ځلیدل جونگړي ته ننوتلو شمعی می ولگولی زما حالت ښه نه وو په خپل ځای کی ملاست وم سترگی می شمعی کی گنډلي وی طوطی رانیږدي شو زما  دا حالت یی نشو زغملی راته یی وویل " هیله کوم بس هر څه تیر شول دا همداسی یوه کیسه وگڼه که زه پوهیدلم چی ستا د ژوند کیسه به دومره دردناکه وی نو هیڅ کله به می درنه د اوربډو غوښتنه نه وه کړي خو هیله کوم ما وبښه انسان په یو حالت کی نه وی کله به یی خوله له خندا ډکه وی خو شبیه به تیره نه وی چی سترگی به یي یو زوریدلی درد نمجني کړی خو هر حالت کی له صبر نه کار اخله دا هر څه یو امتحان دی گرانه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

طوطی راته وویل " شابه ګرانه اوس راته مسکی شه چی زړه می دربانډی خوشحاله شی"

زما د طوطی خبرو او هوښیار تیا او نصیحت ته خندا راغله او حیران شوم له ځانه سره مي وویل " دا الوتونکی څومره رحمدله او هوښیار دی له انسان سره څومره مینه لری څومره رحم ورته په زړه کې لری خو افسوس چی انسان بیا د انسان وینی ته ناست وی پاتی یی لا الوتونکی"

طوطی ته می وخندل بیا لاړه خپل ځاۍ کی اوده شو ما د طوطی لپاره سترګی پټی کړی وی خو خوب نه راتله کله می چی د طوطی سترګی پټی ولیدي زړه می ورته دعا وغوښتله او د طوطی په رحمدلی کی می سوچونه پیل کړی تر دی چی سحر شو.

دا ورځ مو هم په خوښۍ تیره کړه .د شپی مو بیا هماغسی بنډار جوړ کړ طوطی زما د ژوند پاتي کیسي ته په طمع وو .ما هم د کیسی وروستۍ برخه ورته شروع کړه .اسمان ته می وکتل سپوږمۍ پکی کږه لري ولاړه وه .ومی ویل" اه طوطی ګله همداسی د پلار ورور او کوچنۍ خور قبر ته مي هم خپل فریاد وکړ او په چغو چغو می ورته وژړل خو نه چا زواب راکړ او نه می د زړه سکون پیدا کړ .کمال زه له مټه ونیولم کله می چی پام شو یوی خوا ته وړانګه ناسته وه بله خوا مي ماشومان او سړی رانه ددایري په شکل راتاوو وو .کمال زه د کور په طرف روان کړم کلیوالو خپلو کې سره خبرې کولی زه یی پیژندلی وم نو ځکه ټولو له خولي د څک څک غږونه راتلل زه کمال کورته ننویستم دیره کی یی کټ پروت وو هلته زه او وړانګه کیناستو شیبه وروسته یی چاي راوړ.

کمال نه مي د خپلی کورنی د مړینی پوښتنه وکړه .کمال وویل "اه ستا کورنۍ له تا وروسته ډیر دردونه ولیدل هغه هم ستا له امله کله چی ته ورک شوی او مور دی له تا خبره شوه ډیره ناروغه شوه پلار او ورور دی تاپسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېري هلی ځلی وکړی خو پیدا یی نه کړی چا به ویل چی چا تښتولي یي خو د مکتب هلکانو بیا ویل چی موټر وهلی یی . اخیر دې مور د زړه د حملي له امله له دی دنیا لاړه .خور دی هم د مور پسی دوه سلګی وکړی مور او خور دی په یوه ورځ خاورو ته وسپارل شوی.

بیا همداسی وختونه تیریدل دوه کاله وروسته دی په پلار غریبې ډیره شوه ستا ورور مشال یی ترکی ته په قاچاکی لاره روان کړ .دوه میاشتو پوري ستا د ورور درک نه لګیده یو وخت ستاسو د کور مخی ته د امبولانس اوازونه شول او عسکرو دی د ورور مړی کورته راوړه چی پلار ستا د ورور مړی ولیده نو زوف به پری راته غاړی یي کیناستی تر دی چی ډیر بد حالت ته ورسیده .کاکاګانو دی د پلار علاج شروع کړ ستاسي پټي يي ټول خرڅ کړل څه روپۍ یي چور او تالا کړي او څه يي ستا پر پلار مصرف کړي خود پلار دي اخیر د ستونی سرطان شو او هغه هم خپل رب ته ساه ورکړه او ساه به یی ولی نه ورکوله ته او ستا کورنی یی له لاسه ورکړی وو"

ما د کمال نه د خپلی کورنی دا کیسه په ډیره سختی واوریدله خو سترګی می وچی نه شوی نور مي زړه طاقت نه کوو داسي مي ژړل لکه زړه چی د چا چاودیږي او درد یې نشي زغملی چای رانه پاتی وو کمال می مخي ته راغی زه یی غیږ کی ونیولمه.

کمال راته وویل " عکیفه ته چیرته وی تاسره څه شوي وو او دا خور ځوک ده "ما ورته د خپل د دوکي او غفلت ژوند کیسه وکړه کمال راته وویل "زه ښه دا چی تا خو ښه ژوند تېر کړی بس نو نور دی همدوی خپله کورنی وګڼه دلته خو هسی هم ستا څوک ندی پاتی ماماګان دی هم پیښور کی دی اوس او ترونه خو دي تاته معلوم دي چي شپه به ورسره سبا نکړي.

هیله کوم دوی یوازی مه پریده تاسره دوی ډیره مرسته کړی خو کاش چی لومړی يي ستا خپلی کورنی ته خبر ورکړی وو"

ما وړانګی ته وکتل هغي سترګی موښلي په معصومو سترګو یی راته وکتل خو زما زړه چی خپله کورنۍ یادوله نو زړه کي می نفرت راتله ورته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل " نه کماله دوی زما د کورنی قاتلان دی دوی زما د کورنی هر غړي ته جدا جدا درد ورکړی دا منم چی زما پالنه یی وکړه او ما نه یی یو لوړ شخصیت جوړ کړ او زه یی بی موره او بی پلاره پری نه ښودم خو تر څو می چي کورنی په زره کی وی نو تر هغی به زه دوی معاف نه کړم نور نو زه ځم د خدای په امان "

کمال راته ډیری زاریٔ وکړی ترڅو د هغه سره پاتی شم او نور ژوند له هغه سره تیر کړم خو ما ونه منله خداي په اماني می ورسره وکړه او د خپلې کورنۍ د مزار د وروستی دیدن لپاره هدیرې ته لاړم وړانګه راپسې لکه د سیوری راروانه وه . قطار قبرونو ته مې کتل د کورنۍ د هر غړی یاد می زړه کی راتازه کیده د مور قبر ته مي وکتل هغه وخت رایاد شو چی مور راته غوړه ډوډی په بکسه کی اچوله او بیا یی زما غومبوري تاو کړل او په تندي یی ښکل کړم.

بیا مې د پلار قبر ته وکتل هغه وخت رایاد شو چی موږ واړه وو پلار له یو لاسه زه او بل لاسه می ورود مشال نیولی وو او دوکان ته یی روان کړی وو لاره کی یی راته وویل " عکیفه بچو ته دوکان کی څه اخلی " ما ورته وویل " کیک کیک ککو والا کیک " ! مشال وویل لا لا زه منه اخلم"

د پلار رحم دلي می حس کړه بیا مي د مشال قبر ته وکتل هغه وخت رایاد شو چی موږ واړه وو یو کلیوال هلک سره می جنګ شو غیږ په غیږ وو کله می چی ورور ولیدم رامنډه یی کړه موږ دواړه یی خلاص کړو کلیوال هلک یی دوه سپیړی ووهه زما غوصه یی ارامه کړه.

د ورور رحمدلی می حس کړه .بیا می سترګی پاکی کړی د خور قبر ته می وکتل هغه وخت رایاد شو چی ما درز خوړلی وو لاس می مات وو او پلستر کړي مي وو په کټ کی پروت وم خور مي څنګ ته راغله غلی یی راته وویل " ګرانه لالا لاس دی ډیر درد کوی؟ "دی خبری سره می خور په ژړا شوه مور ته یی وویل " زما د لالا لاس به کله روغیږي موري اوګوره هغه یی څومره په عذاب کړی دی "د خور نرم او ښکلی احساس می حس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو قبرونو ته مې کتل زړه مې نارامه وو نه پوهیدم چې څه وکړم له ډیر ځنډ وروسته راپاڅیدم .پلاستیک د قبر څنګ کې پروت وو راوامي خیسته د پلار مور ورور خور د ټولو قبرونو نه مې لږه لږه خاوره راواخیسته او پلستیک کې مې واچوله.

پلستیک مې له ځانه سره واخیسته او ولاړ شوم د سرک په لور روان شوم شا شا ته مې قبرونو ته کتل زړه مې نه کیده غوښتل مې چې ځان ورسره همدلته دفن کړم، خو ناشونی وه.

کله چې سرک ته ورسیدم د ماسپښین دوه بجې وې نری نری باران وریده اوښکو مې له باران سره ملتیا کوله زموږ موټر لا هماغسې ولاړ وو کله چې موټر ته راورسیدم شاته مې وړانګه هماغسې راروانه وه څه یې نه ویل غلې غلې یې راکتل شاید د ویلو ورسره څه نه وو پاتې ما په موټر ډیده ووهله وړانګه یو څنګ ته ودریده راته یې ویل " عکیفه راځه چې ځو هیله کوم موږ یواځې مه پریده " ماته غوصه راغله ورته مې وویل " زه ورکشه زما د کورنی قاتلانو زما ژوند مو تباه کړ خپلی خوشحالیو ته مو کتل زما کونۍ درنه هیره وه تاسو زما د کورنۍ له غړو یوه یوه ساه ویستلی ده .په ما مو شکلونه بد لږي زه ورکشه"!!

وړانګه راته پښو ته پریوته او په ژړا یې راته وویل " عکیفه هیله کوم ما یواځې مه پریده ما به تل د خپل پلار سره ستا د کورنۍ په اړه شخړه کوله چې تا دی خپله کورنی ته وسپاری خو پلار مې کله منله .ته زما زړه یې هیله کوم زه له تاسره مینه لرم ما ستا لپاره ډیر انتظار کړي هیله کوم .که دي خوښه وي نور به له مور پلار سره نه اوسیږو زه او ته به بیل ژوند پیل کړو"

ما وویل " ما نور یواځې پریدۍ زما زړه مو مات کړی ماته ستاسو سترګو کید خپلي معصومي کورنۍ ویني او مړي ښکاري بل زما زړه کی له انسانانو کرکه پیدا شوه زه نور انسان سره ژوند نشم کولی زه ځم . او ستا مینه ، ما تاته تل د خور په سترګه کتلی زه تا څنګه د خپلې مینې په توګه وساتم راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیری عکس راسره وباسه بیا به دی ارمان وی دروستي ځل لپاره  مي ښه دیدن وکړه خو دا یاد ولره چی ته راته د خور په شانتی ښکاری خو زه ستاسو له دومره دوکو څه خبر وم "وړانګه نوره هم په ژړا شوه راته یی وویل " هیله کوم ما مه پریده زه به ستا لپاره له خپلی کورنۍ نه تیره شم ته چی کوم ځای ښایی هملته به اوسو  هیله کوم " وړانګي ډیری زاری وکړی خو ما ونه منله کله چی وړانګه پوه شوه چی زه تري روانیږم نو موبیل یي راواخیسته او یو عکس یی رانه وویسته بیا یی له خپلی غاړی د سرو امیل راوویسته لاس کی یی راته کیښوده او راته یی وویل " ګرانه عکیفه ته زما روح یی .پرته له تا شاید زه خپل ژوند له لاسه ورکړم خو که مړه شوم نو ستا د کورنی قبرونو څنګ ته به  زما قبر هم جوړ شي نو دا د لاس د یوی نښی په توګه وساته خو دا مې واوره زه به  هیڅکله ستا بیلتون ونشم زغملی هیله کوم ژوند مي وژغوره هیله کوم " ما د وړانګي سترګو ته نشو کتلی درد پکي له ورایه ټوپونه وهل د لاس نښه می تری واخیسته ما ورته د خپل لاس ساعت موبیل او د موټر کیلی ورکړه ورته مي وویل " هه دا واخله زما نور پاتی ژوند کی دی ته اړتیا نه لیدل کیږی له تاسو څخه زما د سالمی پالنی مننه کوم نور نو د خدای په امان خو پلار او مورته دې ووایه : عکیف یواځې دا خبره تاسو ته ډالی کوله چی خدای مو داسی کړه لکه څنګه مو چی زما کورنۍ تباه کړه او زما پاتي ژوند مو تباه کړ " وړانګي وویل " امین امین خدای دی ما سره د خپلی کورنی تباه کړی چی زما کورنۍ ستا غوندی د نازولی کورنۍ تباه کړه ‘‘ ما ورته وویل " خا اوس که کوم اخیری آرمان لری نو راته یی ووایه"

وړانګي زه له لاسه ونیولم راته یی وویل " ګرانه عکیف جانه فقت یو وار راته ووایه چی زه له تاسره مینه لرم او مسکی شه راته که بیا مړه هم شوم نو خیر’’

ما وویل " زه درته څنګه ووایم خو چی ستا وروستی آرمان دی نو سمه ده زه له تاسره مینه لرم وړانګی ترخه مسکا وکړه او ژړا یي زور واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تری په تور سرک سیده روان شوم وړانګی زه له لاسه نیولی وم نه یی پریښودلم لاس می تری کش کړ وړانګی چغه کړه په خپلو لاسونو یی سر کلک نیولی وو چغي یی وهلی او راکتل یی.

زما زړه سست وو کلار کلار روان وم طوطی ګله نه پوهیدم چی چیرته لاړ شم نری نری باران هم وریده په کلی کی خاموشی وه شاته مي وکتل وړانګه په پناه کیدو وه رانه او د چغو غړونه یي اوریدل کیده دواړو خواو ته می د ونو قطارونه وو په تور سرک روان وم مخامخ غره ته می وکتل همدغه غر می د اوسیدو ځای وتاکه ورروان شوم له دوه ورځو مزل وروسته طوطی ګله دی غره ته راغلم . اول وخت کی می ډیری ستونزی تیری کړی خو وروسته می هر څه ځان لپاره چمتو کړل دا جونګړه می تیاره کړه میاشت کی به لکه د اوس په څیر یو وار خپل کلی ته تلم او د د کورنۍ ټولو قبرونه به می لیدل په دریمه میاشت چی کله خپل کلي ته لاړم نو د خور څنګ ته می یو نوی قبر جوړ شوی وو له کمال می پوښتنه وکړه چی دا قبر د چا دی هغه وویل چی " دا هغه دهغي خور ده چی تاسره راغلی وه دلته"

ددي خبري په اوریدو مي بدن لړزا ونیوه ډیر زیات خواشیني شوم ځکه ما هم خپل ځان په بي ګناه قتل ولړه ځان راته قاتل ښکاره شو که رښتیا ووایم طوطي ګله نو ډیر زیات په خپلو کړو چي هغي سره مي وکړل پښیمانه یم.طوطی وویل " آیا انسانان هم ریښتینی مینه کوی “ ما اسمان ته وکتل تور سکاره وریځ پری راغلی وه ومی ویل " هو طوطی ګله ریښتینې مینه شته خو په سلو کی یو کس داسی د ریښتینی مینی میینان پیدا کیږی“

ددي خبري سره نری باران شروع شو .جونګړی ته ننوتلو دوه شمعی می بلی کړی د خوب ځایځ کی زه او طوطی سره کیناستو له بهر نه د بریښنا او تندرونو غړونه راتلل . طوطی وویل " دا ژوند هم عجیبه دی د چا ښه وی او د چا بد یي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زما حالت نن شپه یو څه ښه نه وو .زړه مي بي دريغه ټوپونه وهل طوطي نه مي دا خبره پټه کړه او هغه خپل ځاي کي ويده شو .زما په زړه ډير زيات بوج راته او درد پري راتله خو یو وخت مي سترګي پټي شوي.**

**سهر د لمر را ختلو وخت وو .طوطي په جونګړه کي چغي جوړي کړي وي يوي او بلي خواته به له جونګړي تاويده.**

**د سيند غاړي ته هماغه شپونکي راغلي وو کوم سره چي عکيف بلد وو .**

**طوطي چي د شپونکي د شپيلئ غږ واوريده له جونګړي په تيزئ راووته او شپونکي ته يي ځان راوراساوه.**

**ساه يي لنډه لنډه کيده شپونکي وويل "ولي طوطي ګله څه شوي چي داسي نارامه يي؟ هغه مالک دي څه شو"**

**طوطي په وحشت او ساه ساه غږ وويل "هيله کوم راشه د عکيف سترګي خلاصي دي او نور حرکت نه کوي او نه څه وايي ته راشه هيله کوم څه پري شوي؟"!!**

**شپونکي چي دا واوريده نو په منډه منډه يي ځان تر جونګړي وراساوه ګوري چي "" عکيف بڼي سترګي چت کي ګنډلي وي او شخ پخ ژير مخ په ځاي کي پروت وو**

**"**

**شپونکي چغه کړه "ان لله وانا اليه راجعون"**

**عکيف يي په شاه کړ او په تيزئ يي ځان کلي ته ورساوه طوطي هم ورپسي وو.**

**شيبه وروسته طوطي د عکيف د قبر په شناخت چي د وړانګي قبر سره څنګ کي وو کيناست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طوطي له افسوسه او له درده ډکي سترګي اسمان ته نيولي وي.**

**د ناول پایٔ**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**